## د ثبتيدلو قانون- تر هغې پورې به د جرايمو راجستر کې مالومات باقي پاتې وي چې:

اصلاً دا چې د جرايمو راجستر نه به د مجرم نوم کله خارجيږي د دې تاکنه هغه مجازات کوي کوم مجازات چې مجرم ته په يو جرم کې ورکړل شوي وي.

**هغه مالومات چې د جرم څخه ۳ کاله وروسته له مينځه ځي.**
د مجازاتو اخطاريه ( که چيرې څارنوال دا فيصله وکړي چې د جرم لپاره دعوه ونشي)، که چيرې مجرم د جرم کولو په وخت له ۱۸ کلو نه عمر ټيټ وي.

**هغه مالومات چې د فيصلې، تصميم يا تائيدی نه ۵ کاله وروسته، له مينځه ځي.**

- نقدي مجازات، د بېلګې په توګه د چټک چلولو مجازات.
- هره ورځني مجازات
- بنديز
- د زنداني کيدو مجازات که چيرې د ۳۵ مې مادې د ۸ يا ۹ فصل د جناياتو د قانون لاندې يا د لغوه شوې جريمې په مقابل کې تبديل شوي مجازات چې د ۱۸ مې او ۲۱ مې مادې د جريمې عملي کيدو قانون تر لاندې وي.
- مشروطه قضاوت که چيرې مجرم د جرم کولو پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.
- مشروطه ازادي که چيرې مجرم د جرم کولو پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.
- د زلميتوب خدمات که چيرې مجرم د جرم کولو پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.
- زلمي پالنه يا پالنې لپاره پريښودل د (1988:870) قانون له مخې که چيرې بعضې اوقات د معتادينو پالنه وي، که چيرې مجرم د جرم پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.
- د دې نبنه مالوميدل چې شخص د ۳۰ مې مادې د جناياتو قانون له مخې له جريمې څخه ازاد شي که چيرې مجرم د جرم پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.

**هغه مالومات چې د فيصلې يا تصميم څخه ۱۰ کاله وروسته له مينځه ځي.**

- مشروطه قضاومت
- قانوني تعقيب (د څارنوال فيصله چې د جرم لپاره دعوه ونشي که چيرې مجرم د جرم کولو پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي).
- مشروطه ازادي
- د زلميتوب خدمات که چيرې مجرم د جرم کولو پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.
- زلمي پالنه يا پالنې لپاره پريښودل د (1988:870) قانون له مخې که چيرې بعضې اوقات د معتادينو پالنه وي، که چيرې مجرم د جرم پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.
- د دې نبنه مالوميدل چې شخص د ۳۰ مې مادې د جناياتو قانون له مخې له جريمې څخه ازاد شي که چيرې مجرم د جرم پر مهال له ۱۸ کلو څخه ټيټ وي.
- د اړيکو بنديز او نور بنديزونو فيصله د ۳مې مادې ۵ فصل د (2015:642) اروپائي مقرراتو له مخې.
- د زنداني کيدو مجازات چې داسې بريښنې د مخکينيو نيولو له کبله پوره د عمل وړ وي يا د يو بل کوم تصميم له لارې پوره بښل شوی وي.

**هغه مالومات چې د مجازاتو د تيرولو څخه ۱۰ کاله پس له مينځه ځي.**

- زنداني کيدل يا د جريمې په بدل کې د مجازات بدليدل (۱۰ کاله وروسته له ازادئ)
- د زلمي پالنې ختميدل (۱۰ کاله وروسته له دې چې جريمه پوره خلاصه شوي وي)
- د رواني مريضانو قانوني پالنه (۱۰ کاله وروسته ترخيص څخه)

**د اخوا کولو نور مالومات (ثبتيدل)**
د يو جرم مالومات به د جرم په راجستر کې تر هغې ثبت وي تر څو چې نور مالومات نه وي تر لاسه شوي لکه د مينځه وړولو تاريخ يا د ثبتيدلو تاريخ. په دې کې نقدي جريمه استثنا ده او دا استثنا د نورو مالوماتو د ثبتيدلو تاريخ نه اغيزمن کوي.

د جرم په راجستر کې د مالومات پاتې کيدو تر ټولو اوږده موده ۲۰ کاله ده، خو دی استثنا سره چې د زنداني کيدو قضاوت کې به وروسته له خوشې کيدو څخه هم ۲۰ کاله دا مالومات ثبت وي او دا چې د رواني مريضانو قانوني پالنې ځای پريښودلو مالومات به هم ۲۰ کاله وروسته له ترخيصه ثبت وي. (18 او 17) ماده.

که چيرې يو عريضه شوی جرم د قضاوت پايلو ته ونرسيږي نو دا مالومات د جرايمو په راجستر کې نه ثبتيږي. د ابتدائيه محکمې يو ازاده قضاوت هم په راجستر کې نه ثبتيږي. خو د سترې محکمې يو ازاده قضاوت وروسته له دې نه چې د قضاوت پلې کيدو نيټه مالومه شي د جرم په راجستر کې ثبتيږي.

د جرايمو په راجستر کې د ثبتيدو يا له مينځه وړلو مقررات د جرايمو راجستر په قانون کې شتون لري.

جرايمو د راجستر قوانين د پارلمان په بريښنا پانه کې وګورئ